د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپیڅلي نامه

# Logar
# لوګر

میاشتنۍ خپرونه

دتاسیس کال: ۱۳۸۳ هـ.ل

دلوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه


«نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: که څوک زما د قبر سره پر ما درود وایي زه یې درود اورم او که څوک د لیرې څخه پر ما درود وایي هغه ما ته (د ملائکو په ذریعه) رارسول کیږي.
رواه البیهقي في شعب الإیمان»


سه شنبه د۱۳۹۵ کال دچنګاښ دمیاشتې لومړی، د ۲۰۱٦ عیسوي کال دجون یوویشتمه | ۱ | پرله پسې ګڼه (۸۰) لومړی کال، دریمه ګڼه


## په لوګر کې دسنځل ګل دودیزه اوکلنۍ مشاعره جوړه شوه

دسنځل ګل دودیزه او کلنۍ مشاعره، دغبرګولي په ۷ مه دلوګرولایت مقام د شهید عبدالله وردګ په تالار کې دلوګر دمقام او داطلاعاتو او فرهنګ ریاست لخوا د (شعرونه او کتابونه) ترسرلیک لاندې جوړه شوې وه، چې دلوګر والي محمد حلیم فدایي په ګډون، د ولسمشر په علمي او ټولنیزو چارو کې سلاکار استاد لعل پاچا ازمون، لیکوال استاد سعدالدین شپون، دلوګر او دهیواد دبیلابیلو ولایتونو؛ شاعرانو، لیکوالانو، ادیبانو، ژورنالیستانو او ګڼ شمیرد مشاعرې مینه والو، دلوګر سیمه ئیزو ادارو، رئیسانو، داطلاعاتو او فرهنګ رئیس او ددې ادارې کارکوونکو په یاده مشاعره کې برخه اخیستې وه.

مشاعره د قران عظیم الشان د تلاوت سره سم پیل شوه.
داطلاعاتو او فرهنګ رئیس محمد شفیق پوپل دمشاعرې ټولو برخه والو او میلمنو ته ښه راغلاست ووایه.

وروسته لوګر والي محمد حلیم فدایي دسنځل ګل مشاعرې ګډونوالو ته وویل، چې دودیزې مشاعرې زمونږ د ولس ملکیت دی نو په دې اساس شاعران، لیکوالان او دادب ستورې کوم دردونه چې ولس یې لري یا ټولنه کې شتون ولري، دوی یې په خپله نرمه ژبه هغه چاته په شعري او نثري ډول رسوي کوم چې دولس درد دوا کولی شي. والي زیاته کړه شاعران باید ټولنه د اصلاح طرف ته بوزي، ځکه دوی په خپلو شعرونو کې دسولې او یوالي موضوعاتو ته ځای ورکړي، نو په ورته موضوعګانو باندې ټولنه دناخوالو او بدبختیو څخه وځي او د پرمختګ لورې ته پراخیتا مومي.
همدارنګه فدایي شاعران د ولس سترګې نه بلکې پنځه واړه حواس و بلل.
وروسته استاد لعل پاچا ازمون د ولسمشر محمد اشرف غني پیغام ولوست، په پیغام کې دلوګر ولس ته د یادې میلې او مشاعرې مبارکي ویل شوې وه، د پیغام په یوه برخه کې راغلي ؤ، چې داسې مشاعرې او میلې زمونږ ارزښتونه دي او یاد ولایت ته د نورو ولایتونو فرهنګیانو درتګ هم د فرهنګ یو نښه ده. استاد ازمون د شاعرانو څخه دیو پیغام په ترڅ کې وغوښتل؛ چې د بیان د ازادۍ ترڅنګ باید خپلو هیوادوالو ته مثبت پیغام ورکړي. ...
پاتې په دریم مخ کې




## از روز مادر تحت نام (دعای مادر به سرباز) درلوگر تجلیل بعمل آمد

گردهمایی که بدین مناسبت به تاریخ شانزده جوزا درمقام ولایت لوگرتدویریافته بود درآن محمدحلیم فدایی والی لوگر، مل پاسوال محمدایوب انصاری قومندان امنیه، بریدجنرال عبدالرازق صافی قومندان لواءچهارپیاده قول اردو 203 تندر، شیمازرگر رئیسه امورزنان وده هاتن خانم ها ومادران اشتراک ورزیده بودند.
به گزارش خبرنگار آژانس باختر، ابتداء بروح پاک شهدا اتحاف دعا صورت گرفت، سپس محمدحلیم فدائی والی لوگر درصحبت هایش گفت: ما همه مسوولیت داریم تا از خاک خود دفاع کنیم و این خاک به ما حیثیت مادر را دارد وی افزود، دعای مادران میتواند که نیروهای امنیتی را بالای دشمنان این مرزبوم پیروز سازد.
بعداً شیما زرگر رییس امور زنان درصحبت هایش ازهمه زنان خواست که فرزندان شان را به تعلیم و تربیه و پیوستن به صفوف نیروهای امنیتی تشویق نمایند.
در اخیر این محفل مادرانی که از خود شجاعت نشان داده بودند، از طرف مقام ولایت مورد تقدیر قرار گرفتند.
باختر




## به متضررین سیلاب های اخیردرولایت لوگرمساعدت صورت گرفت

ریاست مبارزه با حوادث طبیعی ولایت لوگر به فامیل های متضرر سیلاب های اخیر این ولایت یک مقدارپول واجناس کمک نمود.
حین توزیع این مساعدت ها قمرالدین شکیب معاون مقام ولایت لوگر، محب الله صالح عضو شورای ولایتی و سرپرست ریاست مبارزه با حوادث طبیعی حضور داشتند.
قمرالدین شکیب معاون ولایت لوگر به تاریخ ۲۳ جوزا به خبرنگارآژانس باخترگفت: برای هرخانواده که درسیلابهای اخیر بیشتر متضرر گردیده، مبلغ پانزده هزار افغانی پول نقد، دوازده لیتر روغن، دوتخته کمپل و یک تخته ترپال توسط محب الله صالح عضو شورای ولایتی و سرپرست ریاست مبارزه با حوادث طبیعی و شخص معاون ولایت لوگر توزیع گردید. ...
بقیه درصفحه چهارم

سرلیکنه ...

### په روژې کې دبیوزلو لاسنیوی، خلکوته خیر رسول، د درستې حوصلې نه کاراخیستل د روژتي مهمه خاصه ده

روژه په کال کې یو میاشت پر مسلمانانو فرض دی، چې د اسلام پنځو بناوو څخه دریمه بنا ده، په دغه مبارکه میاشت کې پر حضرت محمد (ص) قران عظیم الشان نازل شوی او قرآنکریم د ټول بشریت له پاره آسماني لارښود کتاب دی، چې په کې د امر او نهی احکام، پندونه عبرتونه، موعظې، حکمتونه او قصص ټول شامل دي. الله تعالی په سوره بقره کې فرمایلي دي: اې د ایمان خاوندانو په تاسو روژه فرض کړئ شوې ده لکه څنګه چه له تاسو مخکې قومونو (یهودو او نصاراو) باندی فرض کړئ شوې وه او دا د دې لپاره چې تاسې پرهیزګار اوسئ او د الله نه ووېرېږئ. څنګه چې روژه بختوره میاشت ده، نو هر مسلمانانو ته لازم ګڼو، چې د روژې په میاشت کې دبیوزلو سره مرستې وکړي، ځکه روژه خلکو ته د خیر رسولو او مرستو کولو میاشت ده، چې باید هر شتمن بې وسو سره خوراکي او غیرخوراکي توکو مرستې وکړي.
په دې میاشت کې دیني عالمان وایې یوه نیکي د نورو وختونو په پرتله لسګونه برابر ډیرثوابونه لري او دغه میاشت خلکو ته د خیر رسولو او د ځان لپاره د ثواب ګټلو سترچانس دی.
په روژه کې نه یوازې خلک په مرستو کولو بسنه وکړي، بلکې هغه څه چې په دې مبارکه میاشت کې ډیرثوابونه لري او یا هغه څه چې مسلمانانو ته د اسلام له پلوه لازم شمیرل شوي ترسره کړي، نو اسلام مونږ ته وایي؛ روژه د صبر او زغم میاشت ده. ځکه مونږ مسلمانان باید دغه مبارکه میاشته کې د حوصلې نه کار واخلو. چا ته ناوړه او بدې خبرې ونه کړو، د کنځلو او نورو ناروا خبرو څخه په کلکه توګه ځانونه وژغورو.
د رسول الله صلی الله علیه و سلم حدیث دی: که چیری څوک تاسو ته سختی او سپوری خبری کوي نو تاسو ورته ووائي چه زما روژه ده.
په روژه کې عبادت د نورو میاشتو په پرتله زیات ثوابونه لري، نو ناوړه چلند هم د نورو میاشتو پر تله زیاته ګناوې لري. یعنی ښه کارونه دنورو میاشتو په اندازه ثوابونه یې زیات وي او دبدو کارونو ترسره کول سړی د زیاتو ګناهنو په سند کې لاهو کوي.
اوس هر مسلمان ته لازم ده، چې د روژې په مبارکه میاشت کې د خدای تعالی (ج) عبادتونه دزړه له تل اداء کړي، له پوره ایمانداری او رښتونولۍ خلکو سره ښه چلند وکړي او له ناوړو او بدو خبرو څخه ځانونه وساتي، د حوصلې نه ډک ووسي او له بیوزلو سره د خپل وس او توان په اندازه مرستې وکړي. نو که چیرته مونږ له پورتنیو ټکو څخه ګټه پورته کړو، نو انشاالله د پوره ایمان درلودونکو او د بشپړه روژتیانو په قطار کې به وشمیرل شو، ځکه بیوزلو ته خیر رسول، له نورو خلکو سره ښه او نیک چلند ترسره کول، په دې میاشت کې له زغم او حوصلې څخه کار اخیستل او د الله تعالی عبادات د زړه له خلوصه اداء کول دیو ښه او با تقوا روژتي ځانګیرني دي، چې خاص د الله تعالی رضا په کې نغښتې وي.

اداره

**روژه د رحمتونو، مغفرتونو او د دوزخ د اور څخه د خلاصون میاشت ده.**